Thu, May 6, 2010 02:27



ارواښاد اولمیر

شاعر: محمد امین بسمل

# موږ د ګران استاد اولمیر ۲۸تم تلین لمانځو

ســـتر خـــادم د افـغــانســـتان و

د پښـــــتو په سپین جبین ځلانده ســـتوری د اسمان و

د افغان د شینکي باغ بلـــبل له هر چا خوش الـــهان و

د ســـرود د مـــلك بادشــــــاه و ډېر کېمین او قـدردان و

هســـي پټ و په ایـــرو کي لـکه لعـل د بدخـــــشان و

دریغه دریغه مرګي وېوړ زموږ روح و زموږ ځان و

ترانې به یې د لـــــــویې پښــــتونخـــوا راته بللـې

په خــوب تللـــي ککـــرۍ بـه یې لــه واره پاخــولـې

قافـــیلې به یې تورتــم کې په رمـــزونو پوهـــولې

ماتې هـــــیلې یې پـه ماتــو کوګلــو کې هـخولـې

په ظاهر لکه ملنګ و خو له تولــو ښه ښــاروان و

درېغه درېغه مرګي وېوړ زموږ روح و زموږ ځان و

په هیــکل دموسیـــقي کې یې لاچې لونګ قطاردي

تــول طرزونه اوراګــونه یې په لــوړهنر اعــیاردي

له خــوږ ژبو شاعــرانــو یې را تول ښکلی اشـــعار دي

واړه لعــل دي واړه دور واړه زمـــوږه افتخــار دي

د پښــتو د ښـکلي ناوې په رنګــین رخسار پیزوان و

درېغه درېغه مرګي وېوړ زموږ روح و زموږ ځان و

ستا د ســترګــو بلا واخلم بیا د سترګې ولې سرې دي

څه په خوند او ســوز یې ویلې پکې نغښتي ولــولـې دي

ویـل را وورې مـلغـلرې که د اوښـکو فـــوارې دي

کلــه ګل کلــه غـونچه شي په رخسار کې د لمـبې دي

هر کلام د هــر شاعـر یې ادا کړی په ښــه شــان و

درېغه درېغه مرګي وېوړ زموږ روح و زموږ ځان و

له هغې ورځې چې دا مظـلوم نـړی تــه و راغلـی

د خــوښــي مــخ يې يــو ځــلې په ژونــدون نه وليدلی

هم دلــر او هم د بــر له ويــره ډېر وکــړېدلی

د ګــردون لــه بې رحــمــيوو تــر پوزې رســـيدلی

خوبيا هم په عظم ټينګ او سترخادم د افغانستان و

درېغه درېغه مرګي وېوړ زموږ روح و زموږ ځان و

کلــه کلــه به غــمونــو پسي واخــيست ميــکدي ته

نــور يې څــوك نه و پنــاه به يې ورووړه رنــد او پيالــې ته

د ساقي تر څنګ خوشحال و نه ورته د شيخ کوڅې ته

ويل اسمان يې را تيت کړئ په ځان مه ورځئ ګوښي ته

له رښتــينو سره مل له ريا کارو سره وران و

درېغه درېغه مرګي وېوړ زموږ روح و زموږ ځان و

بل به هم بيا کومه مور راوړی چې داسې خوش اواز وي؟

چې د ده غوندې سنــګين وي او د ده په شان پيشتاز وي؟

چې همــدومره په سينه کې يې د مينې سوز او ساز وي

چې په خپل ولــس مين او په هــنر کې يــکه تــاز وي

حمــاســې يې زيږولې ممثل د پاك وجــدان و

درېغه درېغه مرګي وېوړ زموږ روح و زموږ ځان و

د ادم رباب خاموش شو درخـــو نه راځي بامـــو ته

پتنـــګان لمبو ایره کړل اوس به څـوك راځي ډیـوو ته

ســـاقـي لپـې لپـې ژاړي ډكـو ډكـو پیمـانـــو ته

په ماتم پســـې ماتم دی نجـــات وركـړی پښـــتنو ته

دا په كومه لـــومه بند شوو دا د كوم صیاد پلان و

دریغه دریغه مرګي ویوړ زموږ روح و زموږ ځان و

وخت به تېر وي چې د خپلو ســـتورو قدر پښـتانه كړي

بیا به څـوك ورته دا ښــــكلي نازولــــي را ستانه كړي؟

خلک وختل اسمان ته دوی خـوبونه لا درانـه كړي

د تـورتـم په تـور زندان كې خـپل ځـــانونه زولانـــه كړي

دا فریاد او افسوس ډیر پخوا لا کړی خوشال خان و

دریغه دریغه مرګي ویوړ زموږ روح و زموږ ځان و

خـدایه کله به پښـــتون د تمـدون په خـوا روان كړې

چه دبل له نخرو خلاص شي دا ویجاړ کور یې ودان کړې

بیا یې شرنګ د توری پورته تر دهلي او اصفهان کړې

غلیمان یې نیست نابـود او شـرمیـنده په ټـول جهان کړې

# دا زمونږ زيبا وطن

http://www.youtube.com/watch?v=GdsbKtshdMY&feature=related

توجه!

کاپی و نقل مطالب از «اصالت» صرف با ذکر منبع و نام «اصالت» مجاز است

کلیه ی حقوق بر اساس قوانین کپی رایت محفوظ و متعلق به «اصالت» می باشد

Copyright©Esalat

www.esalat.org